ډاکټر نبي مصداق ۲۰۱۵/۱۲/۲۳

# د ټول ټاکنو سیستم کې بدلون ته ضرورت نشته

د ۱۳۹۳ کال په ټاکنو کې یوه لویه بې نظمي په هغه وخت کې رامنځته شوه چې د ټاکنو په سیالی کې یو لوري خپله ماتي نه منله او د همدې بې باورۍ له امله بالاخره د اتو میلیونو خلکو هره رایه ځلور ځلي وشمېرل شوه.
د ټولو اتو میلیونو رایو په شمارلو کې ۲۰۰۷ کسان چې درې سوه تنه یې د ملګرو ملتونو، د اروپا د ګډ بازار، امریکایي او نور متخصصین وو، شامل ول. دې وروستی شمېرني درې میاشتې ونیولي او کله نا کله به ان د دواړو مخالفو لوریو پلویانو خبره سوک او چاکو ته هم رسیدله. خو په پای کې څرګنده شوه چې د تحول او تدوام د ټیم د مشر ډاکټر اشرف غني، ۱۳سلنه رایي د همګرايي د ټیم د مشر ډاکټر عبدالله له رایو زیاتي وې.

په هغو ټاکنو کې لویه ستونزه هغو سرغړونو کې، چې ورته د تخطی، تخلف او تقلب نومونه ورکړل شول، موجوده وه.
د افغانستان ټولو وګړو، نه غوښتل چې د دوی په رایو داسي ناوړه ټاپي ولګول شي له همدې امله ولسمشر غني څو میاشتې پخوا یو کمیسیون ته اجازه وکړه چې د ټاکنو په داسي یو سیستم غور وکړي چې پورتنی ستونزې پکې بیا سر را پورته نه کړي. د دې کمیټې په جوړېدو کې سم د لاسه اختلافات منځ ته راغلل؛ ځکه چې قومي جوړښت همدا اوس په افغانستان کې یوه حساسه موضوع ده چې په نظر کې نه وو نیول شوی.

ځکه چې په دې کمیټه کې اووه تنه دري ژبي، دوه تنه پښتانه، دوه تنه هزاره او یو تن اوزبک نیول شوي ول. خو بر څبره پر دې، یادې کمیټې خپل راپور په لسو مادو کې ولسمشر ته وړاندې کړ چې اووه مادې یې قبولې شوي او په درې نورو یې ورته د تجدید نظر امر ورکړ شو. په دې اوو مادو کې یوه چې ډېر مخالفت یې را پورته کړی دی، د هر رایه ورکوونکي لپاره د دوو رایو د کارولو حق ورکول ول دې چې کولای شي دوه رایې وکاروي، یوه رایه د خپلې خوښي د شخص او یوه هم د یو ګوند لپاره واچوي.

د افغانستان د سیاسي ګوندونو د قانون له مخې هغه ګوندونه په قانوني ډول په کار پیل کولای شي چې پوځي هدف ونه لري او هم د تعصب او قومیت له مخې جوړ شوی نه وي؛ بل دا چې د افغانستان له ځلور دېرشو ولایتونو څخه باید لږ تر لږه په شلو ولایتونو کې فعالي اداري او ثبت شوي پلویان ولري.

په افغانستان کې هیڅ ګوند پورته ټول شرایط نه شي پوره کولای، بل دا چې یو ګوند باید د خلکو له منځه نه د سیاسي عقیدو په اساس بیا را پورته شي او د خپل محبوبیت او کړنلارو په ثابتولو سره بیا د هغو فکري خلکو لخوا چې ورنه پلوي کوي ازادو ټولټاکنو ته ور وړاندې کېږي.

تر اوسه به ډېر کم ولیدل شي چې ګوند یا ګوندونه د حکومت په فرمان پر خلکو چیرې هم تپل شوي وي.

د ۲۰۱۴ کال ستر مخالف د بایلېدوونکي ډلي لخوا چې پورته ورته اشاره وشوه، تخطي، تخلف او د تقلب تورونه وو. په ټاکنو کې د اصلاحاتو د راوستلو دا کمېټه چې د غوراوي د کمیټې په نوم یاده شوې، د دې پر ځای د موجوده ټاکنیز سیستم یعنې یو کس، یوه رایه چې په نړۍ کې عمومیت لري؛ په هغه کې اصلاحات راشي. غوراړي یو نوی سیستم، چې د افغانستان د مطلق نالوستو رایه ورکوونکو لپاره به بله ستونزه ده، منځ ته راوستل دي.

د غوراوي د کمیټې بله دنده دا ده چې په ټاکنو کې شفافیت د ټاکنو د آزاد کمیسیون په جوړښت کې اصلاحات او د رایه ورکوونکو لستونه جوړل دي. داسي ونه شي چې د لستونو د جوړولو له مخې په هره ولسوالۍ او ولایت کې کومه ټاکلي اندازه رایه ورکوونکي د نورو په وکالت خوښ شي او یا هم د لبنان او هند په شان دغسي ټاکنیز سیستم ته لاره جوړه شي چې ولسمشر به هر کله له یوه قوم او صدرالعظم به له بل قوم څخه وي. ځکه په دې صورت کې به یوه ته یو نمایشي سمبولیک موقف ورکول وي او بل په اجرائیوي صلاحیتونه لري.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

د افغانستان ټاکنيز کمېسيون په ښکاره ډول ويلي چې د غوراوي د کمېټې ډېر وړانديزونه ورته د منلو وړ نه دي. د دې کمېسيون مرستيال عبدالرحمن هوتکي وايي چې د آزاد کمېسيون د ټاکنو د کمېشنرانو په باب د غوراوي د کمېټې وړانديزونه غير قانوني دي. هوتکي وايي:"د غوراوي کمېټه د ټاکنو د خپلواک کمېسيون مشرتابه ته د منلو وړ نه ده. د کمېسيون دا مشرتابه د ټاکنو د تشکيل او صلاحيت د قانون له مخې د شپږو کلونو لپاره ټاکل شوی دی. د کمېشنرانو د لرکولو موارد په قانون کې موجود ندي».
د ټاکنو شفافيت ته هغه څه تضمين کېدای شي چې د افغانستان لپاره الکترونيکي تذکرې وېشل شوي نه وي. دې تذکرو و ويشل انټرنېټ ته ضرورت لري؛ څو د توزيع پر وخت د کابل په ډېټابس کې ثبت شي او په دې ډول هېڅوک ونه شي کولای چې دوه ځلي او يا له هغې زيات ځلې رايې ورکړي. همدا اوس په لسګونو ولسواليو کې نه برېښنا نشته او نه هم د انټرنېټ پايې نصب شوي دي؛ نو څنګه به د شفافيت تضمين وشي.

د رايو ورکوونکو د لېست جوړول په هغه وخت کې ممکن دي چې له موږ سره د نفوس د شمېرنې کسکر احصايه موجوده وي چې دا هم تر اوسه وجود نه لري. نو تر هغه چې د غوراوي کمېټه د پورته ستونزو په نظر کې نيولو سره او د هغو طرز العملونو په اصلاح کې ډاډمن اصلاحات را نه ولي دا نوی ټاکنيز سيستم چې دوی يې پلي کول غواړي کومه مثبته پايله به ونه لري.
د پارلمان غړو هم وروسته له پوره جر او بحث نه پرون د ولسمشر دا فرمان رد کړ.

پای



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېږلو مخکې په ځير و لولـئ